مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۱۰/۰۸

# د انسان غوښتي

زموږ په څېر انسانان دي، خو زموږ غوښتي لکه ژاولي په خوند خوند ژويي.
ما د سر په سترګو ورته کتل د يوې ژاولي لپاره يې زما له ملګري څخه دوه کيلو غوښتي په نوکانو راجلا کړې.
ښارونه، بازارونه،
کوڅې،سړکونه او ان پلي لارې او لښتيان لا په ژول سويو ژاولو ډک دي.

ځيني مهال د بې لکيو مرغانو او ښکرورو ځناورو ترخنګ وزر لرونکي کشپان هم وينم ، چي پر زړو ژول سويو ژاولو شخوند وهي.
ته زما ورنونه او بازوګانو ته وګوره ! همدا نن يې څو واري غوښتي راڅخه بېلي او زما مخ ته يې لکه ژاولي وژولي.
پرون بيا يوې ځواني نجلی، چي زما غوښتي يې ژولي راته
وويل: " ډېرې خوندوري ژاولي دي".

که هره ورځ نه وي، نو په اوونی کي، خو مي دوه يا درې واره د ژاولو لپاره خامخا وژني.
اوس مي کوناټي او د لاسونو بازوګان درد نه کوي او ورځ په ورځ چاغېږم.

د کلي ملا، ښوونکي،
شاګردان او ان زموږ د کلي په هغه بل سر کي يوه سل کلنه زړه ښځه هم هره ورځ زما وژلو ته نوکان تېره کوي،
خو زه يې په کيسه کي لا نه
يم، ځکه اوس مي له مرګ سره ياري ښه پخه سوې ده.

پرون نه ورمه ورځ د علومو اکېډمی يو شمېر غړو په همدې موخه ووژلم او زما د غوښو پر شکولو يې خورا حملي وي.
زما د تجربي له مخي دوی تر ټولو بې انصاف او ظالمان دي، خو دابيا خورا د خوشحالی خبره ده، چي کوم وخت
زه او زوړ يار سره يو ځای سوو بيا نو غم له موره تښتي.

همداسي مو وکړل، کله چي اکاډميک کسان زما د غوښو په شکولو اخته سول زه او مرګ کرار د يو دېوال يخ سيوري ته بې غمه کښېنستو خوږ باندار او زړې کيسي مو شروع کړې، خورا ډېر
مو وخندل او دا خندا مو هغه وخته نوره هم ډېره سوه، چي د علومو اکېډمی يو تازه مقرر سوي ځوان زما تر نامه لاندي اوتر ځنګونو لوړ لاسونه وهل، ځکه زه تخنېدم او مرګ شرمېدی، خو ځوان دواړه تر پښو لاندي کړي وو او
ژر ژر يې ژاولي ژولي.

موږ د دوی ټولي خبري اورېدلي او ټول حرکات مو يې څارل ، مګر دوی کاڼه او ړانده وو.
ما ورته کتل دوو تنو په عمر پخو څېرونکو په جلا جلا کڅوڼو کي زمايو اندازه غوښتي کورونوته هم يوړې.

يو څه وخت ګېږي، چي زما هم دانسان غوښو ته زړه کېږي، خو زما يار اجازه نه راکوي او وايي : " که د انسان په غوښو روږد سوی بيا دي د ژوند خوند نه سته".

بن ښار، جرمنی
۲۲ اګست ۲۰۲٦



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څېر و لولـئ